# تابش پوهنتون

## محصلانو چارو معاونیت

# د انصاف او برابرۍ پالیسي

کال:۱۴۰۲

# فهرست

نمبر: عنوان صفحه


۱: سریزه------------------------------------------------------------------------------------------۱

۲: اهداف ---------------------------------------------------------------------------------------۱

۳: د ازموینو او پایلو شفافیت ------------------------------------------------------------------۲

۴: منځنۍ ازموینې -------------------------------------------------------------------------------۲

۵: نهایي ازموینې --------------------------------------------------------------------------------۳

٦: د سکالر شیپونو اړوند ----------------------------------------------------------------------۳

۷: د شکایاتو اوریدلو اړوند ---------------------------------------------------------------------۴

۸: د محصلانو حاضرۍ کې ------------------------------------------------------------------- ۵

**سریزه:**

تابش  پوهنتون د ۱۰۰۰ زرو شاه خوا  برحال محصلینو  په لرلو سره د لوړو زده کړو وزارت  په چوکاټ کې له ۱۳۸۸ کال راهیسې  فعالیت کوي. په دې وروستیو کې د لوړو زده کړو وزارت په رسمي سند له کابل څخه ننگرهار ولایت ته را انتقال شــوی دی، چې تر دا مهاله یې درې دورې محصـــلین جذب کړي دي، په ټولو علمي او اړونده  امورو کې د عدالت او انصـاف اصـل تطبیق کول، پرته له تبعیض نه ددې پوهنتون د لوحې په سر کې قرار لري، مونږ به په دې پالسـی کې  د محصـلینو جذب  تشـویق او هڅونه ، د بورسـونو ویشـنه، مجازات او مکافات، محصـــلانو ته د نمرو ورکړه ، دمحصـــلینو ازموینې او ارزونې  او نور اړوند موارد تر بحث لاندې نیول شوې دي.

**اهداف:**

**د انصاف او برابری پالیسي د لاندینیو اهدافو لپاره وضع شوي ده.**

۱- د انصاف او عدالت اصل په نظر کې نیولو سره  دمحصلینو او ورځني فعالیتونه لکه : دمحصلینو تدریسی بهیر ، د کنفرانسونو ارایه کول،  بورسونه، په سیمینارونو او ورکشاپونو کې د محصلینو ونډه.

۲- د په ( وسطي او نهایي) ازموینو کې  د انصاف او برابری اصل په نظر کې نیول.

۳-د محصلینو  د ارزیابی او نمرو ورکولو کې د عدالت او انصاف اصل په نظر کې کې نیول.

۴- په  محصلینو باندې  د لوړو زده کړو وزارت قوانین، مقررات لوایح او پالیسانې یو قسم عملي کول.

۵- قوانین، مقررې، لوایح او پالیسانې د بنرونو، بروشرونو او کنفرانسونو لارې محصلینو ته ښودل.

٦- دمحصلینو د ظرفیت لوړونې پروگرامونو کې شفافیت او عدالت تامینول.

۷- په ټولگیو کې د کمزورو، وسطي او لایقو محصلینو ترمنځ برابری او انصاف

**ازموینو او پایلو دشفافیت په اړه د انصاف او برابری پالیسي:**

دمحصـلانو چارو معاونیت چې د ازموینو  مرکزي کمېټې مشرـي او ځار دنده په غاړه لري،  چې  د محصـلینو سمستر ازموینو په جریان کې د عدالت د تآمین په برخه کې ځارنه او  نظارت وکړي  او  محصل وکولی شي چې  خپله ستونزه په مستقیم ډول د پوهنځي  داخلي کمېټې له مسول، د پوهنځي له رئیس، او د پوهنتون د ازموینو مرکزي کمېټې  سره شریکه کړي، ترڅو د محصلینو حق ضایع نه شي.

محصـلین حق لري چې د پارچې د اعلان څخه تر درې ورځو پورې د پارچې د تجدید نظر غوښـتنه وکړي او د ټاکلې کمېټې/کمېسـون له لورې پلټل کیږي، د تیروتنې او یا د حقیقت د موندلو وروسـته محصـلینو ته د کمېټې پریکړه اورول کیږي، چې دغه چاره د پوهنځیو او یا هم د مرکزي کمېټې له طریقه په هماهنگی سره پرمخ وړل کیږي.

**د سمستر منځنۍ ازموینې:**

منځنۍ یا صنفي ازموینې معمولاً د درسونو په جریان کې یا د سمستر په نمایي کې د شل یا دیرش نمرو څخه اخیستل کیږي په دې ازموینو کې د محصلینو د نیم سمستر ارزونه کیږي، ترڅو محصلین خپلو درسونو او نهایي ازموینو ته لا ښه اماده ګي ونیسي– دا ازموینې معمولاً د پوهنځیو فرعي کمېټو له لورې تنظیمیږي او مرکزي کمېټه په تخنیکي او نظارت برخه کې دنده لري.

**د سمستر نهایي ازموینې:**

نهایي یا د سمستر ازموینې چې د اصولو له مخې له ٦٠ فیصدو نمرو څخه د شپاړس درسي اونیو پای ته رسیدو وروسته د څلور اونیو په موده کې اخیستل کیږي، دې ازموینو لپاره د محصلانو معاونیت تر مشرۍ لاندې د ازموینو مرکزي کمېټه د تحصیلي تقویم له مخې پریکړې او تصامیم نیسي، چې په مرکزي کمېټه کې د هر پوهنځي څخه یو تن استاد غړیتوب لري، چې د پریکړو او تصمیم نیونې وروسته په د ازموینو کې د تطبیق په موخه اجراات ترسره کیږي.

د وروستیو ازموینو سوالونه له پوهنځیو راغونډیږي او د کمېټې له لوري یوه ورځ وړاندې له ازموینې په محرم ډول کاپي کیږي او بیرته پوهنځیو ته ورکول کیږي.

د سمستر نهایي ازموینې چې معمولاً له ٦٠ فیصدو اخیستل کیږي چې د صنفي فعالیت او کورنۍ دندې او دغه راز د شل فیصده ازموینې نمرو په جمعه کولو سره ټولې سل نمرې کیږي چې د استادانو له لوري د انصاف او عدالت پر بنیاد محصلینو ته د وروستۍ ارزونې په موخه ورکول کیږي.

د ازموینو پایلې د پوهنځیو له لوري د درې نه تر پنځو ورځو پورې د اصولو له مخې رسماً اعلانیږي او محصلینو ته په واک کې ورکول کیږي.

د پایلو له اعلان وروسته محصل کولی شي تر درې ورځو پورې د پارچې د بیا کتنې لپاره عریضه یا پشنهاد د پوهنځي یا د ازموینو مرکزي کمېټې ته سپارل کیږي.

د وروستیو ازموینو پایلې له پوهنځیو له لوري نهایي کیږي او د لوړو زده کړو وزارت ته د نتایجو په جدول کې انټري کیږي له شقو سره تطبیږي او د وروستیو اجرااتو په موخه لوړو زده کړو وزارت ته لیږل کیږي.

د سمستر دویم چانس ازموینې:

هغه محصلین چې په اول چانس کې په دې ونه توانیږي، چې د کامیابۍ نومرې پوره کړي د لېسانس زده کړو مقررې له مخې یادو محصلینو نه دویم چانس ازموینې د سل نومرو له قراره اخیستل کیږي او پایله یې دویم چانس کې د اصولو له مخې درج کیږي، که بیا هم محصلین ونه توانیږي چې دویم چانس کې د کامیابۍ نومرې تر لاسه کړي نو دریم چانس ته وړل کیږي او محصل د دریم چانس پر وکړې مکلف دی چې د کامیابۍ نومرې تر لاسه کړي.

**د سکالرشیپونونو، سیمنارونو او ورکشاپونو اړوند د انصاف او برابرۍ پالیسي**

تابش پوهنتون د محصــلینو د ظرفیت لوړوالو لپاره غیر نصــابي فعالیتونه(ســیمنارونو او ورکشــاپونه) په هر سمستر کې په لاره اچوي چې محصلین د درسي مفردانو ترڅنګ پکې ګډون کوي.

د سـمسـتر په پای کې پایلې ترتیبیږي او د پوهنتون، پوهنځیو او ټولګیو په کچه اول نمره ګان په نخه کیږي او د یوې غونډې په ترڅ کې په سکالرشیپونو او معنوي ډالیو نازول کیږي.

**د شکایتونو اړوند د انصاف او برابرۍ پالیسي:**

تابش پوهنتون د نظم اودســپلین کمېټې په چوکات کې د شــکایتونو د ثبتولو او اوریدلو کمېټه لري چې محصـلین په هره برخه کې شـکایت لري کولی شي د پوهنتون د عمومي دروازې سره نږدې په لګول شـوې بکس کې خپل شـکایت د اصـولو له مخې درج کړي، چې دغه شـکایتونه هره میاشـت د کمېټې له لوري را اخیســتل کیږي او په شــوو شــکایتونو باندې د کمېټې له لوري د اصــولو له مخې اجراات ترسره کیږي او محصل ته قناعت ورکول کیږي.

دېته ورته په پوهنځیو کې د فرعي کمېټو په چوکات کې شکایتونو د ثبتونې بکسونه شتون لري محصلین د پوهنځیو له طریقه هم کولی شي چې شـکایتونه ثبت کړي او د اصـولو له مخې پرې د عدالت او انصــاف په بنیاد اجراات ترسره کیږي.

**د محصلانو په حاضرۍ کې د انصاف او برابرۍ پالیسي:**

د لوړو زده کړو وزارت د لېســانس زده کړو د مقررې له مخې هر محصــل مکلف دی چې په هر مضــمون کې ۷۵٪ حاضري پوره کړي که چیرته پورته فیصدي حاضري محصل پوره نه کړای شي محصل د هماغه مضمون محروم ګڼل کیږي او نه شي کولی چې په اول چانس کې ازموینه ورکړي.

د سمستر په پای کې د محرومانو لیست د تدریسي مدیرانو له لوري جوړیږي او له تائید وروسته محصلانو چارو معاونیت ته لیږل کیږي، چې د ضرورت پر وخت علمي شورا کې تر بحث وروسته رسماً اعلانیږي، چې په پایله کې هیڅ محصل ته اجازه نه ورکول کیږي چې په محروم مضمون کې ازموینه ورکړي.

---

پورتنۍ د انصاف او برابرۍ پالیسي د پلان او پالیسۍ کمېټې په ( 1402/6/15 ) نېټه مجلس کې د رایو په اتفاق سره تائید او په (6 ) ګڼه د پروتوکول کتاب کې ثبت ده.

پورتنۍ د انصـاف او برابرۍ پالیسي- د پوهنتون علمي شـورا په ( 1402/06/28 ) نېټه مجلس کې د رایو په اتفاق سره تائید او په ( 07 ) ګڼه د پروتوکول کتاب کې ثبت ده.

د محصلانو چارو معاونیت